خوشحال آصفي
۲۷/۰۲/۲۰۱۶

اصلاحات که سياسي رشوت؟

په خره سپريدل يو شرم، ښکته کيدل بل شرم
د سياسي، سليقوي او حزبي ګمارنو تازه بيلګه

تيره ورځ د ګڼ حکومت ولسمشر غني د کورنيو چارو پخواني وزير، نور الحق علومي استعفا منلې او د يو فرمان پر اساس يې تاج محمد جاهد د کورنيو چارو وزارت ته نومولی دی. ښاغلی جاهد وړاندې په هرات کې د ۲۰۷ ظفر قول اردو قوماندان و. همداشان علومي اوس په هالينډ کې د افغانستان د سفير په توګه ټاکل شوی دی. د غه راز جنرال عبدالرحمان رحمان د کورنيو چارو د وزارت امنيتي معين ټاکل شوی دی. اوس به د کورنيو چارو نومول شوی وزير او نومول شوی ځارنوال له ولسي جرګې څخه د باور رايې ترلاسه کولو ته وړاندې کيږي.

په داسې حال کې چې له استعفا وروسته علومي په ټولنيزه ميډيا فيسبوک باندې له وزارته د لاس په سر کيدو په دلايلو کې؛ ولسمشر ته په خطاب کې ويلي چې په تېر شوي يوه کال کې هغه ملاتړ چې د حکومت د مشرتابه له لوري بايد ورسره شوی وی، نه دی احساس کړی؛ خو د علومي استعفا او پر ځای يې يو دولسم پاس او مسلکي زده کړه نه درلودونکي کس ګمارلو او ددې تر څنګ يو پوځي کارکوونکی (علومي) د ډيپلوماسۍ ډګر ته داخلولو ګڼې پوښتنې زيږولي دي.

لومړی لويه پوښته دا ده؛ په داسې حال کې چې د پنځوس پنځوس سلنې وندې پر اساس خو د کورنيو چارو وزارت څوکۍ د ګڼ حکومت اجرايه رييس عبدالله عبدالله ته رسيدلې وه او علومي هم د عبدالله له لوري ټاکل شوی و چې ولسمشر غني هم ورسره پرې موافق و او له پارلمانه يې هم ۱۳۱ تاييد رايې اخيستې وې؛ طبيعي ده چې پارلمان به يې مسلکي توب اصل او تجربه په پام کې نيولې وې ځکه يې خو پرې د وزير په توګه باور وکړ؛ نو اوس ولې له يو کال خدمت کولو وروسته يې استعفا منل کيږي؟

آيا د ياد وزارت وړتيا يې نه درلوده؟ که وړتيا يې نه درلوده نو بيا ولې يې له پارلمانه د تاييد رايه ترلاسه کوله؟

آيا پارلمان خو د کومې معاملې پر اساس نومړي ته د تاييد رايه نه وه ورکړې؟

دا هغه پوښتنې دي چې تر اوسه لا نه دي ځواب شوي.

بله مهمه موضوع بيا د يو ډيپلومات په توګه د يو پوځي کدر ګمارل دي. علومي اوس په هالينډ کې د افغانستان د سفير په توګه ټاکل شوی دی. داسې ويل کيږي چې علومي د عبدالله د پرله پسې فشار له امله استعفا ته اړ شوی دی او بيا د خوښ ساتلو په موخه په هالينډ کې د سفير په توګه ګمارل شوی دی. پوښتنه دا ده که ولسمشر او اجرايه رياست په کورنيو چارو وزارت کې د اصلاحاتو په موخه د علومي استعفا منلې وي **نو دا څنګه اصلاحات دي چې يو پوځي کارکوونکی دې د ډيپلومات په توګه وګمارل شي؟**

اصلاً دا ټول سليقوي ګمارنې دي چې د حکومت په راس کې ترسره کيږي. همدا اوس چې کورنيو چارو وزارت ته د تاج محمد جاهد په نوم څوک نومول شوی دی؛ داسې شخص دی چې مسلکي نه دی، بريالی کاري مخينه نه لري، لومړی زده کړې نه لري خو دا چې ولې د کورنيو چارو وزارت ته نومول شوی؟

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ

تر شاه يي د عبدالله عبدالله پشتيوانه ده. جاهد عبدالله عبدالله ته وفاداره نيږدي کس دی. همداشان هغه څوک چې د جنرال عبدالرحمان رحمان په نامه د کورنۍو چارو د وزارت امنيتي معين ټاکل شوی دی؛ نومورې هم د ولسمشر غني نيږدي وفاداره کس بلل کيږي.

نو له پورته جوړښته په ډاګه کيږي چې ګمارنه د وړتيا، تجربې او مسلک له مخې نه بلکه د سليقې له مخې شوې چې پر اساس يي عبدالله خپل وفاداره اشخاص او غني خپل وفاداره اشخاص په لويو پوستونو ځای پر ځای کړي دي.

افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولـئ